# که چېرته يو سړی پکې د الحاد (له حقه د اوښتو) تش نيت هم وکړي، حال دا چې هغه په عدنِ أبين کې وي، نو الله به ورته دردناک عذاب وروڅکوي

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه مرفوع روايت دی: د الله تعالی د دې وينا په اړه چې فرمايي: {وَمَنْ يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ} [الحج: 25] يعنې: (او څوک چې په هغه (مسجد الحرام) کې په ظلم سره بې لاريتوب وغواړي، هغه ته به دردناک عذاب وروڅکو). وايي«که چېرته يو سړی پکې د الحاد (له حقه د اوښتو) تش نيت هم وکړي، حال دا چې هغه په عدنِ أبين کې وي، نو الله به ورته دردناک عذاب وروڅکوي.»

[صحيح دی] [احمد او الحاکم روايت کړی دی]

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د الله تعالی د دې وينا په اړه يادونه وکړه چې فرمايي: {وَمَنْ يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ} ويې وويل: که د خلکو له ډلې څخه يو کس په زړه کې دا خبره تېره کړي او ټينګه اراده وکړي چې د مکې په حرم کې کوم بد کار وکړي، داسې کار چې په هغه سره د حرم هغه څه حلال وبولي چې الله پرتا حرام کړي لکه د ژبې (بد استعمال) يا قصدي وژنه، چې دا ظلم دی؛ او که دا اراده د يمن په عدن ښار کې هم وي، نو د همدې ارادې له امله مستحق دی چې الله تعالی پرې دردناک عذاب راولي، که څه هم هغه کار يې نه وي کړی؛ ځکه چې په دې کې يوازې اراده کول هم بسنه کوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65331